## <u>مطبوعاتي اعلامیه</u>

### فلسطیني اداره او امنیتي ارګانونه یې خپل غړي د جهنم ژورې کندې ته بیایي

(ژباړه)

د ۲۰۲۴م کال، د ډسمبر په ۲۰مه، "عطیه وایل" د جمعې ورځې لمانځه پر مهال خپل وینا کې فلسطیني ادارې (PA) او د هغې امنیتي ادارو ته خبرداری ورکړ چې د جنین په کمپ کې د مسلمانانو د وینې حرمت ته پام وکړي. په ځواب کې، د دغې ادارې امنیتي ارګانونو هغه د بلعا د کلي – طولکرم – له دوکان څخه په وهلو ډبولو له ځان سره یووړ. هغوی د عطیه پر کارکوونکي، مهدي فیاض هم برید وکړ او هغه یې هم ونیو. د فیاض یوازینی جرم دا و چې د امنیتي ځواکونو د وحشت او پر خلکو د یرغل ویډیو یې اخیستې وه. هغه لا تر اوسه د استخباراتو په بند کې دی.

له دې وروسته، چارواکو ، د ۲۰۲۴م کال، د ډسمبر په ۲۱مه، شنبه، د دغه جرم لړۍ ته دوام ورکړ او "تیسیر جیطاوي" او د هغه دوه زامن، "قتیبه" او "عبیده" یې ونیول. پولیسو د دوی پر کور وحشیانه برید وکړ، د کور حریم یې مات کړ او دواړه زامن یې په زور ونیول. وروسته، پلار (تیسیر) خوشې شو، خو زامن یې لا هم په بند کې دي.

دا هغه صحنه ده چې فلسطیني اداره او د هغو خلکو پر وړاندې د دغې ادارې کړنې ځرګندوي چې په جنین کمپ کې د دوی پر شرمناکو جرمونو نیوکه کوي. دوی هغه کسان نیسي او شکنجه کوي چې د دوی پر جرمونو او د حزب التحریر د شبابو پر وړاندې د دوی پر ظلم نیوکه کوي.

**دلته، د امنیتي ادارو غړي باید ودرېږي، فکر وکړي او پر خپلو کړنو له سره غور وکړي:**

هغه څه چې امنیتي ادارې یې په جنین کمپ کې ترسره کوي – د خلکو محاصره، د خوراک او څښاک بندول او د اوبو پر ټانکونو ډزې کول – په شمالي او بیا وروسته په ټوله غزه کې د یهودو ظلمونو ته ورته صحنه ده. یهود خو هغه دښمنان دي چې په کرکه او نفرت یې ان ډبرې شاهدي وایي؛ آیا فلسطیني ادارې تاسو د هغوی په څېر کړي یئ؟ ایا تاسو د خپلو ورونو پر وړاندې جګړه کوئ، هغوی وږي او تږي ساتئ، د هغوی ښځې، ماشومان او سپین ږیري محاصره کوئ؟! ایا تاسو نه ګورئ چې ستاسو لاسونه د تشکیلاتي حکومت د مشرانو د اوامرو په اطاعت کې، چې په رام الله کې د یهودو او امریکایي جنرال امرونه پلي کوي، څه کړي دي!؟

هغه کسان چې په جنین کمپ کې وسلې لري، تاسو ته یې په وار وار ویلي چې زموږ وسلې تاسو ته نه دي نیول شوې؛ بلکې مقابل لوری مو اشغالګر یوځ دی. تاسو څنګه کولای شئ چې خپلې وسلې د هغو کسانو سینو ته برابرې کړئ چې ستاسو وینه یې ساتلې!؟ تاسو د دغو کسانو پر لور لاسونه غځوئ چې ویې وژنئ؛ په داسې حال کې چې هغوی تاسو ته هیڅ زیان نه دی رسولی؟ ایا تاسو غواړئ د هغوی ګناهونه په خپله غاړه واخلئ او د الله سبحانه وتعالی پر وړاندې دا ستر بار پر خپلو اوږو واچوئ؟ ایا تاسو فکر نه کوئ!؟

وروسته د فلسطين خلک د ښکېلاکګرو ښارګوټو د اوسېدونکو له لوري تر يرغلونو لاندې راځي، چې د الله سبحانه وتعالی کورونه سوځوي؛ لکه د "سلفيت" په څنګ کې "مردا" کلی. دوی کورونه او دوکانونه سوځوي او ويجاړوي، خلک له خپلو کورونو بې ځايه کوي او له خپلو ځمکو يې راګرځوي. تاسو نه د خلکو ساتنه کوئ او نه دوی ته وسلې ورکوئ چې خپله دفاع وکړي. ستاسو له دغو اعمالو سره د فلسطين خلک حيران دي چې څوک به يې دفاع کوي.

نو دوی ته ځواب ورکړئ چې څوک به يې د ظالمانو له يرغل څخه ساتي؟ ايا نه پوهېږئ چې تاسو د لوېديځې غاړې د خلکو د بېځايه او بې کوره کولو لپاره د يهودو پلان د دوی په خوښه پلی کوئ؟ سرغړوونکو چارواکو داسې حالت ته رسولي يئ!؟ ايا نه پوهېږئ چې يهود له اوسلو تړون راهيسې د فلسطيني ادارې د سترګو پر وړاندې د خپلو ښارګوټو پراخولو او نويو قوانينو د تحميل په حال کې دي؟

يهود اوس يوه نوي پړاو ته داخل شوي؛ داسې چې غواړي خپل ښارګوټي پرته له کوم مقاومت څخه پراخ کړي، په داسې حال کې چې تاسو اړ کوي چې د خپلو خلکو پر وړاندې ودرېږئ او هغوی د ښارګوټو جوړوونکو پر وړاندې تسليمۍ ته اړ کړئ.

که تاسو په دې برياليې شئ چې خپل خلک د هغوی د پلانونو له مخې تسليم کړئ، تاسو به هغوی ته ستر خدمت کړی وي، خو ايا فکر کوئ چې هغوی به له تاسو څخه خوښ شي او ستاسو وفاداري به وستايي؟ نه، په والله چې هغوی به تاسو دومره رسوا او ذليل کړي چې هېڅوک به درسره ونه درېږي. تاسو پوهېږئ چې دوی څومره مزدور چارواکي د خپل ماموريت له ترسره کولو وروسته منحل کړي دي.

موږ، حزب التحرير، په همدې سپېڅلې خاوره کې د يوه مخلص نصيحت کوونکي په توګه پر تاسو غږ کوو: د هغو مشرانو د امرونو له اطاعت څخه لاس واخلئ چې خپل برخليک يې د يهودو له برخليک سره تړلی دی. يهودو ته د هغو کسانو په منځ کې هېڅ توپير نه شته چې پر وړاندې يې جنګېږي يا يې ترڅنګ جنګېږي او ملاتړ يې کوي.

له خپلو وروڼو او کورنيو څخه، چې تاسو يې وينه، عزت او مالونه لوټ کړي دي، چېرې ځئ؟ د قيامت په ورځ د الله سبحانه وتعالی له غضب او انتقام څخه چېرې تښتئ؟ د مفسدينو او د فلسطيني ادارې د چارواکو او مشرانو جنايتکارانه امرونه او لارښوونې مه منئ چې د دنيا او اخرت د هلاکت په ډنډ کې مو ډوبوي.

موږ د هغو کسانو کورنيو ته چې په امنيتي ادارو کې کار کوي وايو: له خپلو زامنو سره مرسته وکړئ، هغوی ته نصيحت وکړئ او له دغې ناوړه لارې يې راوګرځوئ چې دين او دنيا يې خوندي کړئ. د قيامت په ورځ به تاسو د هغوی پر حال افسوس وکړئ.

**(وَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ غَافِلًا عَمَّا يَعْمَلُ الظَّالِمُونَ إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ الْأَبْصَارُ)** [ابراهيم: ۴۲]

**ژباړه:** *«داسې ګومان مه کوه چې الله تعالی د ظالمانو له کړنو خبر نه دی [بلکې خبر دی] له شکه پرته چې د دوی عذاب هغې ورځې ته ځنډوي چې په هغه ورځ به يې سترګې رډې ولاړې وي.»*

موږ، په حزب التحرير کې، قسم کړی چې د اسلام مخلص ساتونکي به يو؛ د حق خبره کوو او د الله سبحانه وتعالی د رضا لپاره له هېڅ ملامتوونکي نه وېرېږو. هغه چارواکي او ادارې چې د حزب التحرير پر وړاندې ولاړ دي، موږ يې پېژندلي يو او پوه شوي چې

د رژیمونو لخوا د نیولو، شکنجې، او ان وژنلو په څېر جنایتونه موږ له خپل هدف څخه نه شي منع کولای. د دغو رژیمونو وخت پای ته رسېدلی دی، خو حزب التحریر او دعوت یې ژوندی پاتې شوی. زموږ په زړونو کې د حق دعوت د غرونو په څېر کلک او مضبوط دی. موږ باور لرو چې اسلام به د الله سبحانه وتعالی په وعده او حکم سره بېرته راګرځي. په دې کې هېڅ شک نشته. د فلسطین قضیه د اسلام قضیه ده او دا د ټولو مسلمانانو مکلفیت دی چې د نبوت پر منهج راشده خلافت بیا تاسیس کړي. په پای کې، په حجة الوداع کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا وصیت راوړو:

**«... فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ، قَالَ مُحَمَّدٌ: وَأَحْسِبُهُ قَالَ: وَأَعْرَاضَكُمْ عَلَيْكُمْ حَمَكَمْ حَرَامٌ، هَذَا، فِي بَلَدِكُمْ هَذَا، فِي شَهْرِكُمْ هَذَا، وَسَتَلْقَوْنَ رَبَّكُمْ فَسَيَسْأَلُكُمْ فَأَلُكُمْ عَمْ، أَعَمْ، تَرْجِعُوا بَعْدِى ضُلَّالاً يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ، أَلا لِيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ،...»** [بخاری]

**ژباړه:** *(... نو ستاسو وینه، ستاسو مالونه او ستاسو عزت د یو بل لپاره حرام دي، لکه څنګه چې د دې ورځې، د دې میاشتې او د دې ښار حرمت دی. تاسو به له خپل رب سره مخ شئ او هغه به تاسو د خپلو عملونو په اړه وپوښتي. پام کوئ! له ما وروسته کافران ضلالت ته مخه نه کړئ چې د یو بل غاړې پرې کړئ...)*

**د فلسطین په سپېڅلې خاوره کې د حزب التحریر مطبوعاتي دفتر**

**۲۰۲۴م کال، د ډسمبر۲۲مه**

**۱۴۴۶ هـ.ق کال، د جمادي الثاني ۲۰مه**

**د صدور ګڼه: ۱۷/ ۱۴۴۶**

**ژباړن: اسرار تکل**